

دسمبر ۲۰۲۳

# له مېرمنو سره د هېواد په کچه د مشورو راپور لنډيز

انځور: د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداره/سيدحبيب بيدل

## شالید

”زمونږ غږ نورو ته ورسوئ او افغانستان له دغې تیارې څخه وژغورئ.“

دغـه سـند پـه افغانسـتان کـې د مېرمنـو د اوسـني وضعيـت او لومړيتوبونـو پـه اړه د هغـوي نظرونـه وړانـدې کـوي. دا، د ۲۰۲۱ کال پـه اګسـت کـې د طالبانـو تـر حاکميـت را وروسـته، لـه افغـان مېرمنـو سره د ربعـوارو مشـورو پـه يـوه لـړۍ کـې د هغـوي تجربـې او د پاليسـۍ سپارښـتنې منعکسوي.[1] سرپرسـت چارواکـو د مېرمنـو پـر بنسـټيزو حقونـو او ازادۍ د بنديـز نـږدې ۷۰ فرمانونـه او احـکام صـادر کـړي او عمـلي کـړي دي،[2] چـې پـه بشـپړ ډول مېرمنـې د خپـل راتلونکـي او د هغـوي د هېـواد د راتلونکـي پـه اړه لـه پرېکـړې کولـو څخـه محـروم سـاتي. لـه افغـان مېرمنـو سره مشـورې، د هغـوي د تجربـو، هيلـو او وېـرو پـه اړه پوهېـدو کـې مرسـته کـوي او موخـه يـې پـه مـلي او نړيوالـه کچـه د هغـوي د غږونـو رسـول دي.

د ملګـرو ملتونـو د ښـځو چـارو اداري، د کډوالـۍ نړيـوال سـازمان او پـه افغانسـتان کـې د ملګـرو ملتونـو مرسـتندويه ماموريـت (يونامـا) د هېـواد لـه ۳۴ ولايتونـو څخـه پـه ۳۳ ولايتونـو کـې لـه ۴۶۲ مېرمنـو سره، پـه مخامـخ او انلايـن بنـه مشـورې او د ټيليفـون لـه لارې سروې ګانـې تـرسره کـړې دي.[3] مېرمنـو د تېـرو دريـو (د ۲۰۲۳ کال لـه اګسـت څخـه تـر اکتوبـر) مياشـتو پـه اړه خـبرې کـړي دي، ملګـرو ملتونـو، د ملګـرو ملتونـو غـړو دولتونـو او نـورو نړيوالـو فعالانـو تـه يـې خپلـې تجربـې او لومړيتوبونـه بيـان کـړي دي او سپارښـتنې يـې ورتـه کـړي دي څـو پـه افغانسـتان کـې د مېرمنـو حقونـه بهـتر شي. پـه دې پروسـه کـې د کورنيـو سرپرسـتو مېرمنـو، لـه کوربـه ټولنـو څخـه بېځايـه شـوو مېرمنـو، اطـرافي، نيمـه اطـرافي او ښـاري مېرمنـو، دنـده درلودونکـو او نـه درلودونکـو، او د بيلابيلـو عمرونـو، نژادونـو، زده کـړو او ازدواجـي حيثيـت درلودونکـو مېرمنـو سره مشـورې شـوي دي.

[1] د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداره، يوناما او د کډوالۍ نړيوال سازمان، په هېواد کې دننه په ربع وار ډول له افغان مېرمنو سره مشورې کوي. د مشور په اړه راپورونو کې د ۲۰۲۳ کال جولای مياشت، د ۲۰۲۳ کال اپريل مياشت، د ۲۰۲۳ کال جنوري مياشت او د ۲۰۲۲ کال اګست/ سپتمبر مياشتې ګډون لري.
[2] د متحده ايالاتو د سولې انسټيټيوټ. ۲۰۲۳. له مېرمنو سره د طالبانو د (ناسم) چلند تعقيبول.
[3] په دې کې له لوګر او نورستان پرته له ټولو ولايتونو څخه ګډونوالو ګډون درلود.

## د کلیدي موندنو او سپارښتنو لنډیز

### د مهمو موندنو لنډیز


- زده کړې او کار ته لاسرسی، د نجونو او مېرمنو د ذهني ناروغیو د زیاتېدونکي بحران په ګډون د دغو پراخو ستونزو، او همدا راز له بېوزلۍ او ښوونځیو څخه د نجونو له وتلو سره تړلو منفي پایلو، لکه وختي او د ماشومتوب واده، د ماشومانو کار، کورني تاوتریخوالي اوغیر قانوني مهاجرت ستونزو، د حل لپاره تر ټولو ډېر مهم بلل شوی دی.
- مېرمنو ټینګار درلود، چې د زده کړو کچه او اقتصادي پیاوړتیا، د کورنۍ او د ټولنې په کچه پرېکړه نیونه اغېزمنوي؛ هغوي، مېرمنو ته د مشروعیت په ورکولو او پرېکړې نیونې ته لاسرسي کې، زده کړه او کار ډېر مهم وباله. پر نجونو او مېرمنو اوسني بندیزونه، له پخوا موجود هغه نریتیفونه/ناخوښه باورونه لا پیاوړي کوي، چې مېرمنې پوهه او ځواک نه لري او په دې ډول یو نسل مېرمنې رهبرۍ لپاره له لیاقتونو او مهارتونو څخه لیرې ساتي.
- په کور، کورنۍ او ټولنه کې د مېرمنو د اغېزمنتوب احساس، سږکال په هره ربع کې په تدریجي ډول کم شوی و. یوازې ۱۰ میاشتو کې، په کورنۍ کې د هغو مېرمنو ونډه، چې "ښه" یا "بشپړ" اغېز یې راپور کوه، د ۲۰۲۳ کال په جنوري کې له ۹۰ سلنې څخه په نوومبر کې ۳۹ سلنې ته ټیټ شوې ده. په ټولنه کې یې ونډه له ۱۷ سلنې څخه ۵ سلنې ته کمه شوې ده.
- نږدې نیمایي (۴۸ سلنه) هغو مېرمنو چې مشوره ورسره شوې وه، ویلی چې د بندیزونو تحمیل د وخت په تېرېدلو سره لا سخت شوی دی، البته په جولای میاشت کې له ۶۲ سلنې څخه ټیټوالی پکې راغلی دی. همدا راز یوې سترې برخې (۳۲ سلنه) مېرمنو باور درلود چې د قوانینو پلې کوول کې اساني راغلې ده او د وخت په تېرېدلو سره استثناآت پکې رامنځته شوي دي، چې په جولای میاشت کې د ۱۹ سلنې په پرتله زیاتوالی پکې راغلی دی.[4] دا په ازمایښتي ډول د سرپرست حکومت په پالیسیو کې یو څه نرموالی ښيي او بندیز لګوونکي جنسیتي نورمونه ښایي وضع شي، چېرې چې مېرمنو له بندیزونو سره ځان عیارول پیل کړي وي.
- په مشورو کې وښودل شوه چې د مېرمنو ذهني روغتیا ډېره خرابه پاتې شوې ده، چې ۷۶ سلنه مېرمنو خپله ذهني روغتیا "ډېره بده" یا "بده" درجه بندي کړه. د ډیپرېشن یا خپګان په څېر د ذهني ناروغۍ وضعیتونو له امله، ډېرې مېرمنې د ستړیا، د اشتها له لاسه ورکولو او سردردۍ په څېر فزیکي ستونزو سره مخ وې.
- له نیمایي لږ زیاتو ځواب ویونکو (۵۳) سلنه احساسوله چې د هغوي په ټولنو کې مېرمنې د اقلیم د بدلون پر لاملونو او اغېزو پوهیږي. هغوي وویل چې افغان مېرمنې په دې ستونزو کې د ښکېلتیا لپاره په غوره موقعیت کې دي، د بېلګې په ډول د ناورین د خطر کموالي، چاپېریال مدیریت، بحثونو چمتو کولو او د عامه پوهاوي کمپاینونو زعامت په اړه کمېټې تاسیسولی شي.
- د ۲۰۲۳ کال د اکتوبر پر ۸ مه نېټه د افغانستان په لویدیځ کې د زلزلو په ګډون، تازه او روانو بشري بېړنیو حالتونو او له پاکستان څخه د افغانانو اجباري راستنېدنو، چې اکثریت یې ماشومان او مېرمنې دي، د افغان نجونو او مېرمنو وضعیت په نامناسب ډول اغېزمن او بحران یې لا زیات کړ. په نادولتي مؤسسو کې پر ښځینه کارکوونکو د بندیز په ګډون، د سرپرست حکومت تبعیضي پالیسیو، جنسیت ته ځواب ویونکو مرستو په لاره کې خنډونه پیدا کولو ته دوام ورکړی دی.

### سپارښتنې

- میرمنو له نړیوالې ټولنې وغوښتل چې د ښځو لپاره د ښه شرایطو او افغان میرمنو لپاره د طالبانو سره د مستقیمو خبرو اترو د فرصتونو په برابرولو سره د DFA فشار ته دوام ورکړي. ډېری میرمنو دا غوښتنه پیاوړې کړه چې د عامه تصمیم نیولو کې د برخه اخیستو لپاره د دوی یوازینۍ لار په توګه د ښځو د ګډون لپاره لارې رامینځته کړي.
- میرمنو وویل چې د DFA اوسني محدودیتونو او کړنو ته په پام سره، ملګري ملتونه او نړیوال استازي چې په سیمه ایزه کچه کار کوي، په عمل کې به د DFA سره مستقیم د محدودیتونو د بیرته راګرځولو او د محلي معافیتونو په اړه خبرې اترې وکړي.
- میرمنو په دوامدار ډول د ملګرو ملتونو او نړیوالو استازو څخه چې د DFA په غونډه کې یې ترسره کوي غوښتنه وکړه چې د اغیزمنتوب پر بنسټ د دلیلونو له لارې - د نیم نفوس په توګه - د ښځو په ګډون ټینګار وکړي او د کورنۍ او ټولنې نارینه غړي او نارینه مذهبي او قومي مشران د مدافع وکیل مالتړ لپاره ښکیل کړي.
- ښځو په دوامدار ډول له نړیوالو لوبغاړو څخه وغوښتل چې د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا ملاتړ وکړي، په شمول د بې وزلۍ او ورسره تړلې منفي رواني روغتیا او نورو پایلو ته د رسیدو او د تصمیم نیولو ته د ښځو د نفوذ او لاسرسي زیاتول.

[4] راټوله شوې ډاټا په احصایوي ډول استازې کوونکې نه ده او د وخت په تېرېدلو د سیمې په استازیتوب کې بدلونونه راتللی شي. اعداد/ شمېرې باید د میلانونو د ښودونکي په توګه ولوستل شي.


هغه مېرمنې چې په کورنۍ کې "نه" یا "بشپړ" اغېز راپور کوي.





هغه مېرمنې چې په ټولنه کې "نه" یا "بشپړ" اغېز راپور کوي.




نړیواله ټولنه، مېرمنو لپاره د وضعیت د ښه کولو په موخه، له طالبانو سره په ښکېلتیا کې څه کولی شي؟[۵]




له اګست څخه تر اکتوبر میاشتې پورې، یو اویا سلنه مېرمنو د اندېښنې، یوازیتوب او ډېپرېشن/خپګان د لا ډېرېدلو راپور ورکړ، چې د ذهني ناروغۍ دوامداره زیاتېدنه ښیي.




[۵] مېرمنو دغې پوښتنې ته تر یوه زیات ځوابونه هم انتخابولی شول.

## مونديٍ

> "مونږ هيله لرو چې زمونږ پيغام به په نړۍ کې منعکس شي او مونږ به خپلو حقونو لپاره د مبارزې په برخه کې يوازې پرېنښودل شوو."

د هغو مېرمنو، چې مشوره ورسره شوې ده، او د هغوي د کورنۍ د غړو پر ژوند د سترو اغېزو درلودونکي بنديزونه تر ټولو شپږم ټولګي پورته د نجونو پر زده کړو بنديز (۳۴ سلنه)، د مېرمنو پر کار بنديز په ځانګړي ډول په ملي او نړيوالو غيردولتي مؤسسو او د ملګرو ملتونو په ادارو کې (۲۰ سلنه) دولتي ښځينه کارکوونکې پر کورونو کېنول (۱۲ سلنه) او د مېرمنو د ګرځېدلو پر ازادۍ بنديزونه (۲۱ سلنه) وو. مېرمنو له نړيوالې ټولنې څخه خپلې غوښتنې ته دوام ورکړی چې د نجونو او مېرمنو پر زده کړو (ثانوي او عالي) بنديزونو ليرې کولو کې بدلون راوستلو ته لومړيتوب ورکړي او ورپسې د عايد د فرصتونو په زياتوالي کې بهتري راولي.

د ګالوپ تازه سروې وښودله چې د ۲۰۲۳ کال په جولای مياشت کې يوازې ۱۱ سلنه افغان مېرمنو ويل چې هغوي له هغې ازادۍ څخه راضي دي چې د ژوند په چارو کې يې لري.[٦] دغه شمېره د ۲۰۲۲ کال په پرتله ۲۹ سلنه کموالی ښيي او دا د يوه نوي ريکارډ په توګه تر ټولو ټيټه کچه ده چې د ګالوپ له لوري يې سروې ترسره شوې ده.

### زده کړه او کار / دنده

زده کړې او کار ته لاسرسی، د نجونو او مېرمنو د ذهني ناروغيو د زياتېدونکي بحران په ګډون د دغو پراخو ستونزو، او همدا راز له بېوزلۍ او ښوونځيو څخه د نجونو له وتلو سره تړلو منفي پايلو، لکه وختي او د ماشومتوب واده، د ماشومانو کار، کورني تاوتريخوالي او غيرقانوني مهاجرت ستونزو، د حل لپاره تر ټولو ډېر مهم بلل شوی دی. هغو مېرمنو، چې مشوره ورسره شوې وه، څرګنده کړه چې بېوزلي څه ډول د خوړو د ناخونديتوب[٧] لامل کېږي او روغتيايي خدماتو او درملو او همدا راز ترانسپورت ته لاسرسی محدودوي، په ځانګړي ډول په هغو ځايونو کې چې د محرم درلودلو شرط د ترانسپورت لګښت دوه برابره کوي.[٨] په کليوالي سيمو کې خپرېدونکي بېوزلي ښايي په دې مانا وي، چې يوه بشپړه ټولنه اړينو چوپړتياوو ته د لاسرسي لپاره خصوصي وسايل/ موټر ونلري. آن د طالبانو تر واک نيولو څخه مخکې هم ډېرې ټولنې له کمزورې بنسټيزو او د روغتيايي چوپړتياوو له ليرې والي څخه کړېدل.

د دندو د فرصتونو پنځولو ته د پياوړتيا د وسيلې په توګه ليدل کېدل، چې د مېرمنو خپلواکي رامنځته کوي او په ټولنه کې يې ښکېلتيا/ بوختېدنه زياتوي. هغوي، کار/ دندې ته د باسواده ماشومانو د روزنې، د کورنۍ له خير ښېګڼې سره د مرستې کولو او په کورنۍ کې او له کورنۍ څخه بيرون په پرېکړو نيونو کې د اغېزې درلودلو د يوې وسيلې په توګه ليدل. د ۲۰۲۳ کال له جنوری څخه تر سپتمبر پورې مشوره کې، مېرمنو د کورنۍ په پرېکړو نيونو کې د اغېزې د کمېدلو نسبت، له کورنۍ سره د هغوي د مالي مرستو کمېدلو ته وکړ.[٩] په نړيواله کچه د عايد زياتوالي او د عايداتو د کنټرول وړتيا درلودلو ته، په کور دننه د مېرمنو د چنو وهلو واک تر اغېزې لاندې راوستلو سره مستقيم تړاو ورکړل شوی دی.[١٠]

مېرمنو يادونه وکړه چې مېرمنو لپاره د عايد د زياتوالي فرصتونه اوسمهال د خياطۍ، قالين اوبدنې، لاسي صنايعو، جواهر جوړونې، کرنې، څارويو روزنې او ځينو لپاره د انلاين کار په څېر، په ټولنيزه کچه د منلو وړ کور دننه فعاليتونو پورې محدود دي. د دغه ډول فعاليتونو، په ځانګړي ډول هغه چې د کور دننه بايد ترسره شي، هغو سيمو کې له بازارونو سره اړيکه پرې شوې وه، چېرې چې د سفر لپاره يوه محرم ته اړتيا موجوده وه او يا په هغو سيمو کې چې ښځينه وو لپاره ځانګړي بازارونه بند شوي وو. مېرمنو، نړيوال فعالان وهڅول چې د روغتيايي وضعيت په پايلو او د مېرمنو په اغېزمنتوب کې د ډېرې بهترۍ په ګډون د مېرمنو د اقتصادي پياوړتيا او معيشت پروګرامونو لپاره خپل ملاتړ وغځوي.

### ذهني روغتيا او ټولنيزې اړيکې

د ۲۰۲۲ کال له اګست راهيسې په مشورو کې په پرلپسې توګه، د مېرمنو د ذهني روغتيا وضعيت کمزوری پاتې شوی و؛ ۷۶ سلنه مېرمنو خپل ذهني وضعيت "بد" يا "ډېر بد" درجه بندي کړ. مېرمنو د تنهايي، ټولنيز شاتګ او پر ځان د اعتماد کموالي د تجربو يادونه وکړه او همدا راز اندېښنه، ذهني فشار او قهر يې ياد کړ. دغه ډول احساسات د ذهني ناروغيو په حالتونو، لکه ډېپرېشن او بې خوبۍ کې ښکارندېدل او له امله يې نجونو او مېرمنو د سټريا، د اشتها له لاسه ورکولو او سردرديو په څېر فزيکي ستونزې تجربه کولې. مېرمنو په ورپسې راتلونکو

---

[٦] ګالوپ. ۲۰۲۳. "ازادي مراوې کيږي، په افغانستان کې مېرمنو لپاره کړاو لا هم پاتې دی." د نوومبر ۱۰ مه.

[٧] ډېر احتمال لري چې مېرمنې له دغو تګلارو سره ځان عيار کړي څو د خوړو ناخونديتوب مديريت کړي څکه چې د ځان نه عيارولو په صورت کې به کافي، تغذيوي خوړو ته لږ لاسرسی ولري په داسې حال کې چې خپلو اولادونو ته د خوړو چمتو کولو او د کورنۍ نارينه غړو ته به پر ځان لومړيتوب ورکړي. ووينئ: پاملرنه. ۲۰۲۲. په افغانستان کې پر نجونو او مېرمنو د خوړو بحران اغېز – نوومبر ۲۰۲۲. له ټمې سره سم، بحران او د بېړنيو حالاتو د خوړو ناخونديتوب به د ۲۰۲۳ کال په اکتوبر کې ۱۵،۳ ميليونه (۳۶ سلنه) افغانان اغېزمن کړي وو. ووينئ: د خوړو خونديتوب د درجه بندۍ مرحله. ۲۰۲۳. افغانستان: د ۲۰۲۳ کال اپريل لپاره د خوړو حاد ناخونديتوب وضعيت او د ۲۰۲۳ کال د مئ – اکتوبر لپاره طرحه جوړونه.

[٨] د محرم اړتيا په دې مانا ده، چې مېرمنې او د هغوي محرم دواړه بايد د ترانسپورت لګښت ورکړي، چې لګښت يې دوه برابره کيږي. په ځينو راپورونو کې راغلي دي چې په کابل کې په شريکو ښاري موټرونو کې هغه مېرمنې چې محرم ورسره نه وي، د ټولو څوکيو کرايه ورکړي. ووينئ: ام ايس ايف. ۲۰۲۲. په افغانستان کې روغتيايي پاملرنې ته د لاسرسي پر وړاندې دوامداره خنډونه: د يوه غځېدلي بحران کوچنۍ اغېزې او يو ټکنی اقتصادي وضعيت.

[٩] د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداره، يوناما او د کډوالۍ نړيوال سازمان. ۲۰۲۳. له مېرمنو سره د هېواد په کچه د مشور راپور لنډيز – سپتمبر ۲۰۲۳. کابل: د ملګرو ملتونو د ښځو چارو اداره.

[١٠] نړيوال بانک. ۲۰۲۱. مېرمنې، سوداګري او قانون ۲۰۲۱. واشنګټن ډي سي: نړيوال بانک. اي فيلډ، آر. پانډی، ان. رېکولډ او نور. ۲۰۱۶. د هغې په حساب کې: ايا د مېرمنو د مالي کنټرول پياوړي کول د مېرمنو د کار عرضه زياتولی شي؟ د کار کولو سند. کمبرېج، ام ای: هارورډ بزنس سکول.

دریو میاشتو کې د ذهني روغتیایي وضعیت د لا خرابېدلو په اړه راپور ورکړ.[11] مېرمنو په ورځني ډول د نا هیلۍ او بدبینۍ له احساس درلودلو څخه شکایت درلود.

په عمومي ډول، نجونو او مېرمنو ته ورپېښو بندیزونو، له وضعیت سره د چلند کولو د مهمو مثبتو تګلارو کچه او ذهني روغتیا لپاره د ملاتړ نارسمي سیستمونه کم کړي دي. مېرمنو د کورنۍ د غړو او ملګرو زیاتېدونکې شمېرې ته اشاره وکړه چې د معیشت د غوره فرصتونو پیدا کولو په تکل له هېواده بهر مهاجرت کوي، چې دا د کورنۍ د نږدې اړیکو او د ټولنې له وګړو سره اړیکو له لاسه ورکولو له لارې ټولنیز بیلتون رامنځته کوي. پارکونو، جېمونو/سپورټي ځایونه او د ښکلا سالونونو ته د مېرمنو پر ورتګ بندیزونو له امله ټولنیزې اړیکې هم له منځه تللي دي. مېرمنو ومنله چې هر څوک له ذهني ناروغۍ کړېږي او د کورنۍ غړو او ملګرو لیدل له احساساتي پلوه سخت تمامېږي.

د مالي فشار او په کور کې بند پاتې کېدلو له امله، په کورنیو کې دننه د شخړې او جنجالونو زیاتوالی هم ښودل شوی دی، چې د ځینو مېرمنو او خاوندانو تر منځ دوه اړخیز درناوی کم شوی او کورنۍ تاوتریخوالی زیات شوی دی. دا یوه داسې ستونزه وه چې مېرمنو پخپله راپورته کړه او په اړه یې خبرې وکړې.[12] ځینو مېرمنو باور درلود چې د کورنۍ نارینه غړي د سرپرست حکومت له پالیسیو څخه اغېزمن شوي دي او په پایله کې یې کړه وړه اغېزمن شوي دي. د سرپرست حکومت د فرمان پربنسټ، نارینه د کورنۍ د ښځینه غړو د کړو وړو مسؤول دي[13] او په دې ډول نارینه لا زړور کوي چې په کورنۍ کې مېرمنې تر خپل کنټرول لاندې وساتي او محافظه کارانه ټولنیز ژوند عملي کړي. د مېرمنو له لورې د فرمانونو د عملي کولو لپاره د سړو په مسؤول ګڼلو، سرپرست حکومت په کورنۍ کې دننه د نارینه وو په فردي واک او خپلواکۍ هم تېری کړی دی. د ګالوپ تازه سروې وښودله چې پر مېرمنو وضع شوو بندیزونو په ټولنه کې د مېرمنو حیثیت ډېر اغېزمن کړی دی او یوازې ۱۷ سلنه افغان مېرمنو او ۳۶ سلنه سړو باور درلود چې له مېرمنو سره د درناوي چلند کېږي.[14]

تر کوره د مېرمنو محدود ساتلو او د ټولنیزو اړیکو ویجاړولو، د هغوی د معلوماتو ترلاسه کولو وړتیا لا محدوده کړې ده او د بشري مرستې په ګډون نورو چوپړتیاوو ته د هغوی لاسرسی یې ډېر کم کړی دی. د سړو په پرتله، مېرمنو له پخوا راهیسې هم معلوماتو ته لږ لاسرسی درلود، ځکه چې د سواد کچه یې کمه وه،[15] ګرځنده ټیلیفونونه ورسره نه وو او انټرنټ ته یې لاسرسی نه درلود. مېرمنو لپاره مهمه نارسمي ټولنیزه اړیکه، چې معلومات ترلاسه کړي، د محدودیتونو د عملي کېدو له لارې له منځه لاړه، چې هغوی له نورو ټولنې جلا شوې او د کورنۍ پر نارینه غړو متکي شوې.[16] په لویدیځ افغانستان کې د زلزلو د پېښو له امله او پر پوله پرتو سیمو کې د اجباري راستنېدلو په ګډون، دا په ځانګړي ډول په اوسني بشري بحران کې پرتو او بېځایه شویو او ډېرو اړمنو مېرمنو لپاره د اندېښنې وړ خبره ده [لاندې صندق ووینئ]. معلوماتو ته لاسرسی درلودل، مېرمنو ته د بشري مرستو ترلاسه کولو وړتیا ورکوي او هغوی کولی شي چې د خپل ژوند او معیشت په اړه باخبره پرېکړې وکړي او خپلو بنسټیزو حقونو ته وده ورکړي.

## اغېزه او ګډون

پخپله د مېرمنو له لورې د راپور له مخې، په کور، کورنۍ او ټولنه کې د مېرمنو د اغېزې احساس د ۲۰۲۳ کال په هره ربع کې په پرلپسې توګه کم شوی دی. په یوازې ۱۰ میاشتو کې، په کورنۍ کې د "ښه" یا "بشپړ" اغېز راپور کوونکو مېرمنو سلنه، د ۲۰۲۳ کال په جنوري کې له ۹۰ سلنې څخه په نوومبر کې ۳۹ سلنې ته ټیټه شوې وه او دغه کچه په ټولنه کې له ۷ سلنې څخه ۵ سلنې ته ټیټه شوې ده. ځینو ځوان ویونکو وویل چې د مېرمنو د اغېزې کچې په کورنیو کې توپیر درلود. په ځینو سیمو کې، د مراتبو نورو سلسلې مهمې وې، لکه عمر، چې د پاخه عمر خاوندانو مېرمنو په ځانګړو حالتونو کې په پرېکړه نیونه کې ډېر اغېز درلود. د دې تر څنګ، ډېرو مېرمنو فکر درلود چې هغوی ته په پرېکړه نیونه کې د ګډون کولو ډېره اجازه نه ورکول کېدله. د اختلاف یا جنجال راپورته کېدلو په صورت کې، پرېکړې د سړو په حق کې کېدلې.

مېرمنو ټینګار درلود چې زده کړو او اقتصادي پیاوړتیا د کورنۍ او ټولنې په کچه پرېکړه نیونه کې د هغوی پر حیثیت مثبته اغېزه درلوده. دا له ډېرې مودې راهیسې په ملي او ولایتي کچو معمول و، چې د پرېکړې نیونې رول ته لاسرسي لپاره د مېرمنو زده کړې ته د مهم فکتور په سترګه لیدل کېدل.[17] د مېرمنو پر زده کړه او کار بندیزونه، له پخوا موجود هغه نرېتیف/ناخوښه باورونه لا پیاوړي کوي چې مېرمنې پوهه او ځواک نه لري او خبرې ته یې غوږ نیول ارزښت نه لري. یو بل ورته نرېتیف/ناخوښه باورونه چې مېرمنې د عامه زعامت رول ترلاسه کولو

---

[11] هغو مېرمنو چې د خپلې ذهني روغتیا په اړه یې راپور ورکړ، د ۲۰۲۳ کال په اپریل، جولای او نوومبر میاشتو مشورو کې په لاندې ډول شمېرې بدلې شوې وې: هغه مېرمنې چې راپور یې ورکوه، ذهني وضعیت یې "ډېر بد" (په ترتیب سره ۵۷ سلنه، ۶۹ سلنه او ۴۷ سلنه)؛ "لږ بد" (په ترتیب سره ۳۳ سلنه، ۲۲ سلنه او ۲۴ سلنه)؛ "د پخوا په څېر دی، بدلون نشته" (په ترتیب سره ۸ سلنه، ۷ سلنه او ۱۸ سلنه)؛ "لږ ښه شوی دی" (په ترتیب سره ۲ سلنه، ۲ سلنه او ۹ سلنه)؛ او "ډېر ښه شوی دی" (۰ سلنه، ۰ سلنه او ۲ سلنه) یاد شو.

[12] دغه ټکی په ربعوارو مشورو کې په تکراري ډول یاد شو.

[13] د حجاب په اړه فرمان په ځانګړي ډول د یوې مېرمنې محرم د هغې د کالیو د کنټرول مسؤول ګاڼه. ووینئ: کی. کلارک او اېس رحیمي. ۲۰۲۲. مونږ هم ساه اخیستلو ته اړتیا لرو": په افغانستان کې مېرمنې د طالبانو له لورې د حجاب په اړه قانون عملي کوي. کابل: د افغانستان د تحلیلګرانو شبکه.

[14] ګالوپ. ۲۰۲۳. ازادي مړاوې کېږي، په افغانستان کې مېرمنو لپاره کړاو لا هم پاتې دی. د نوومبر ۱۰ مه.

[15] د ښارونو په پرتله (۴۰ سلنه) په کلیوالو سیمو کې د مېرمنو د سواد کچه ټیټه (۱۶ سلنه) ده او په ملي کچه د نارینه وو د سواد له کچې (۵۵ سلنه) څخه دواړه ټیټې دي. ووینئ: د بشردوستانه چارو د همغږۍ دفتر. ۲۰۲۳. د بشردوستانه اړتیاوو عمومي کتنه ۲۰۲۳. د ملګرو ملتونو تعلیمي، علمي او کلتوري مؤسسه. ۲۰۲۳. یونېسکو له ټولو افغانانو سره اوږه په اوږه دریږي څو په افغانستان کې ځوانان او بالغ وګړي، په ځانګړي ډول نجونې او مېرمنې، تر ۲۰۳۰ کال پورې سواد ولري. مطبوعاتي اعلامیه، اپریل ۲۰ مه.

[16] یوې تازه څېړنې ښودلې ده چې د سړو په پرتله مېرمنې هغوي لپاره د موجودو بشري مرستو په اړه لږې (۳۷ سلنه) خبرېږي په داسې حال کې چې سړي (۲۸ سلنه) خبرېږي. ووینئ: Ground Truth Solutions and Salma Consulting. ۲۰۲۳. د ټوپیرونو پر وړاندې: په افغانستان کې د نجونو او مېرمنو پر وړاندې د مسؤولیت منل پیاوړي کول.

[17] اېس وېکفیلډ او بي باور. ۲۰۰۵. پر مېز ځای: افغان مېرمنې، سړي او د پرېکړې نیونې واک. کابل: AREU. ای لارسن او اېن کوبرن. ۲۰۲۰. یووالی، قوت او تومنه. کابل: AREU

لېاره کافي زده کړې او لياقت نه لري، د افغانستان اسلامي جمهوريت په حکومت کې هم په پرلپسې ډول وکارول شو څو د بين الافغاني خبرو اترو په ګډون، چې په پايله کې يې طالبانو حکومت ونيو، مېرمنې د زعامت له ټولو منصبونو څخه ليرې وساتي.[۱۸] پر زده کړه او کار اوسني بنديزونه، د ردونې پلرني ټولنيزو نورمونو د پياوړي کولو خطر لري او د مېرمنو يو بشپړ نسل، زعامت لپاره له اړينو زده کړو او مهارتونو څخه ليرې ساتي.

په عامه پرېکړه نيونه کې د مېرمنو له رسمي ټولشمولتوب پرته، هغوي نارسمي او تخليقي لارې چارې موندلې چې په پرېکړه نيونه او د شخړو په حل کې همکاري وکړي. هغوي په کورنيو، ټولنو او په ولايتي او ملي کچو د زعامت رول په غاړه اخيستلو لپاره مهم مهارتونه او پوهه لري او معيارونه پوره کوي. سره له دې، د هغوي پر حقونو د بنديزونو لامله لا زياتو ناوړه شوو ټولنيزو نورمونو، مېرمنې بې زړه کړې چې پر خپل ځان باور ولري او له خصوصي او عامه فورم څخه يې غږ حذف شو. د دې پر ځای، له سروې ټمه کېده چې د مېرمنو پر ژوند بشپړ کنټرول ولري. يوې ځواب ويونکې په دې وينا "چېرې چې نارينه وي، مېرمنو ته اړتيا نشته" دغه خبره روښانه کړه.

## د اقليم بدلون

تر نيمايي زياتو (۵۳ سلنه) ځواب ويونکو وويل چې د هغوي په ټولنو کې مېرمنو د اقليم بدلون د لاملونو او اغېزو په اړه پوهه درلوده. يو پر درېيمه برخه (۳۵ سلنه) ځواب ويونکو وويل چې د هغوي په ټولنو کې مېرمنې وربانديې نه پوهيږي. د اوبو کموالی، وچکالي او د هوا ککړتيا، د چاپېريال هغه عمومي ستونزې وې، چې خوړو او اوبو، معيشتونو او د ښوونځيو او روغتيايي کلينيکونو په څېر بنسټيزو خدماتو ته لاسرسی يې اغېزمن کړی و. ځينو ځواب ويونکو يادونه وکړه چې د چاپېريال فشارونو د سرچينو د زياتېدونکي کموالي او کېوالی له لارې پر ټولنيز خپلمنځي ارتباط اغېزه کړې وه. دغو ننګونو او خطرونو پر مېرمنو نامناسبه اغېزه کړې وه. د اوبو راوړلو لپاره اوږد سفر، مېرمنو، نجونو او هلکانو لپاره د جنسيت پر بنسټ د تاوتريخوالي خطرونه زيات کړي وو په داسې حال کې چې پر نجونو او مېرمنو نور سخت او له دوديز پلوه درانه کورني کارونه کول شايي له شرمه ډک ګڼل شوي وو او ټولنيز ټکر او بېلتون يې رامنځته کولی شو.

مېرمنو د اقليم بدلون او چاپېريال ستونزو کې د هغوي د ګډون لپاره لارې چارې تشريح کړې. هغوي د افتونو د خطر کموالي او د چاپېريال مديريت په اړه د کمېټو تاسيسولو لپاره چمتو وې، د بېلګې په ډول هغوي کولی شي، چې بحثونه راوبولي او د هوا د ککړتيا، د چاپېريال خونديتوب او د اوبو ساتنې په اړه د عامه پوهاوي کمپاينونه رهبري کړي. ځينو مېرمنو سپارښتنه درلوده چې د اقليم فشارونو، سروو او مېرمنو لپاره فرصتونه چمتو کړي دي چې د جنسيت لپاره محدودو شوو رولونو څخه ووځي او مېرمنې توانيږي چې د کورنۍ او ټولنې خونديتوب لپاره له دوديز پلوه نارينه رول په غاړه واخلي.

## بېځايه کېدنه

بېځايه کېدنه او کډوالتوب، په ځانګړي ډول د تازه زلزلو له امله او اجباري راستنو شوو کډوالو ته په ليدلو، په افغانستان کې ډېرې ټولنې اغېزمنوي [لانديې صندق وويني]. مېرمنو وويل چې د خلکو د کډوالۍ په اصلي لاملونو کې، هغوي يا د هغوي د کورنيو لپاره د کار په پيدا کېدلو کې ستونزې، خدماتو ته لږ لاسرسی درلودل، وچکالي او جنګ جګړې، ګډون لري. ځينو مېرمنو هيله وښوده چې د کار يا تعليمي فرصتونو، ډېر خونديتوب او زياتې ازادۍ درلودلو لپاره له هېواده بهر لاړې شي او دا ښيي چې د مېرمنو د حقونو بحران څه ډول د بېځايه کېدنې بحران غځولی او پراخ کړی دی. دغو هيلو ته د هغوي د نه رسېدلو په لاره کې اصلي خنډونه، د مالي لګښتونو پوره کولو وړتيا نه درلودل او د کورنۍ او ملګرو د ملاتړ د اړين سيستم له لاسه ورکول وو.

د کورنۍ نارينه غړي ډېری مهال يوازې يا تر نورو مخکې کډوالۍ ته غاړه ږدي څو د کار فرصتونه پيدا کړي. ځينو مېرمنو وويل چې د کورنۍ د نارينه غړو له تګ څخه وروسته يې د لا ډېر ناخونديتوب احساس درلود او له يوه محرم پرته له کور څخه وتل ورته لا ډېر ستونزمن وو. هغو مېرمنو چې نه يې غوښتل په بل ځای کې ځای پر ځای شي، اسانتياوو (لکه بازارونو، روغتيايي چوپړتياوو، ښوونځيو)، ترانسپورټ او د کار فرصتونو او کورنيو سره د نږدې اوسېدلو اهميت يادونه يې وکړه.

مېرمنو په بېځايه کېدنه کې د زيانمننتوب يو تر ټولو عمده لامل، په ځانګړي ډول د کورنيو سرپرستو او کونډو مېرمنو، معلولو او بې سواده مېرمنو لپاره، د هغوي جنسيت وښود. دغه مېرمنې د ګرځېدلو، زده کړې او کار ته د لاسرسي او د کليدي چوپړتياوو او ملاتړ ترلاسه کولو لپاره د معلوماتو په ترلاسه کولو کې له اضافي خنډونو سره مخ وې. کور دننه کار، چې اوسمهال په افغانستان کې مېرمنو لپاره د کار يو مهم ډول دی، د بېځايه کېدنې د اغېزو پر وړاندې په ځانګړي ډول زيانمنونکی/ له خطر سره مخ دی، چې د پيرودونکو په پيدا کولو کې نارسمي شبکې له لاسه ورکړې دي او د موادو او وسايلو په نقل او ترانسپورټ کې له ستونزو سره مخ دي.

[۱۸] ای نجات او جی مرتضا شوېلي. ۲۰۱۵. په افغانستان کې د مېرمنو د زعامت رول. واشنګټن: د متحده ايالاتو د سولې انستيټيوټ. اېس. وېکفيلډ. ۲۰۰۴. د جنسيت او محلي کچې پرېکړه نيونه: په مزار شريف کې د قضيې يوې مطالعې موندنې.

## په لویدیځه سیمه کې زلزلې

د اکتوبر میاشتې د ۷مې او ۱۵مې نېټې ترمنځ، د لویدیځ افغانستان هرات ولایت کې څلور پیاوړي (۶،۳ درجې په کچه) زلزلې وشوې، چې په لوړه کچه مالي او ځاني زیانونه یې واړول. په نوموړي زلزله کې هغه ټولنې زیانمنې شوې چې لا دمخه زیانمنونکې وې او له امله یې زرګونه وګړي بشري مرستو ته اړ شول او تر ژمي مخکې د هغوی محدود چمتووالی یې لا کم کړ. نجونې او مېرمنې په نامناسب ډول اغېزمنې شوې وې او د اټکلونو له مخې د مړو شمیر ۵۴ سلنه، د ټپیانو ۵۸ سلنه او د ورکو شوو ۶۱ سلنه برخه یې تشکیلوله.[19] د دې ستر اټکل دا دی چې مېرمنې د کلتوري نورمونو او د سرپرست حکومت د محدودیتونو له امله، چې د هغوی د ګرځېدو پر ازادۍ او له کوره بهر د فرصتونو پر لټون بندیز له امله په کورونو کې دننه پاتې وې.[20]

افغان مېرمنې، د محدودو جنسیتي نورمونو، زده کړې او روغتیایي پاملرنې ته په لاسرسي کې د محدودیت، سرچینو او د معیشت فرصتونو ته ناکافي لاسرسي او په پرېکړه نیونه کې د ګډون نه درلودلو له امله، له طبیعي ناورین څخه په نامناسب ډول په پراخه کچه اغېزمنېږي. دا د طبیعي ناورینونو پر وړاندې د نجونو او مېرمنو د زیانمننتوب خطر زیاتوي او د چمتووالي ظرفیت یې کموي. په نړیواله کچه، د سړو په پرتله ماشومان او مېرمنې د طبیعي افتونو په پایله کې ۱۴ ځله زیات د مړینې له خطر سره د مخ کېدلو احتمال لري.[21]

په ملي او نړیوالو نادولتي مؤسسو او د ملګرو ملتونو په ادارو کې، پر افغان ښځینه کارکوونکو بندیز، د جنسیت ته ځواب ویونکو بشردوستانه چارو مخه نیسي. محافظه کارانه ټولنیز نورمونه او د سرپرست چارواکو بندیزونه په دې مانا دي، چې د نادولتي مؤسسو نارینه کارکوونکي په ستره کچه نه شي کولی چې افغان مېرمنو ته لاسرسی ولري. د بشردوستانه چارو د نارینه کارکوونکو له لوري چمتو کېدونکې مرستې، یوازې د کورنیو نارینه مشرانو ته رسیږي. کله چې ښځینه مرستندویه کارکوونکې موجودې نه وي، په ځانګړې ډول هغه مېرمنې چې کورنۍ کې نارینه غړي ونلري، لکه کونډې او د کورنۍ سرپرستې مېرمنې، د ټاکنې له پروسه، د اړتیاوو ارزونو، وېشنې او د فیډبک مېکانېزمونو څخه پاتې کیږي. په دې ډول، هغوی له ژوند ژغورونکې مرستې څخه محرومې پاتې کیږي.

## له پاکستان څخه اجباري ستنېدنې

له پاکستان څخه د بې اسناده افغانانو اجباري ستنول به هم شاوخوا ۱،۷ میلیونه افغانان اغېزمن کړي، چې اکثریت یې مېرمنې او ماشومان دي او د افغان نجونو او مېرمنو ستونزې به لا زیاتې کړي.[22] د پاکستان حکومت د ۲۰۲۳ کال د نومبر په لومړۍ نېټه د بې اسناده افغانانو اجباري ستنول پیل کړي وو. دغه پرېکړه سره له دې وشوه چې د ۲۰۲۱ کال له اګست راهیسې د بحران او د محاکمه کولو د ستر خطر او له بشري حقونو څخه د سرغړونو له امله، کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنرۍ (UNHCR) له لوري افغانستان ته د نه ستنولو غوښتنه شوې وه. دا د بشري حقونو ډېری هغو ښځینه مدافعینو لپاره د ځانګړې اندېښنې وړ خبره ده، چې د ۲۰۲۱ کال له اګست میاشتې وروسته یې هېواد پرېښی او اوس بېرته د خطر ساحې ته په اجباري ډول استول کیږي. په نادولتي مؤسسو او د ملګرو ملتونو په ادارو کې کار کوونکو مېرمنو باندې بندیز به په ځواب کې د ښځینه کارکوونکو د ګډون مخه ونیسي او ماشومان او مېرمنې به له ژوند ژغورونکې ملاتړ څخه بې برخه کړي.

له ډېرو راستنو شوو وګړو څخه خپلې شتمنۍ، کالي او توکي د مجبورۍ له امله پاتې شوي وو او نورې بېځایه کېدنې ته به اړ شي. نجونې او مېرمنې به په هغو ناخوندي او بې اعتباره چاپېریالونو کې له زیاتېدونکې ذهني ناروغیو او د خوندیتوب خطرونو سره مخ شي، چې کافي اسانتیاوې او پناه ځایونه به ونلري. دغه چاره، د ښځینه مرستندویه کارکوونکو لپاره پر جدي اړتیا ټینګار کوي، چې د اړتیا او بېځایه کېدنې په وضعیتونو کې نجونو او مېرمنو ته په مستقیم ډول جنسیت ته ځواب ویونکې مرسته چمتو کړي.

---

[19] د کډوالۍ نړیوال سازمان. ۲۰۲۳. څو – سکتوري چټکه ارزونه. نوومبر ۱۲مه.
[20] د لا زیاتو معلوماتو لپاره، ووینئ: جنسیت د بشردوستانه عمل کاري ډله کې. ۲۰۲۳. د جنسیت تازه معلومات #۲: په هرات ولایت کې زلزله. کابل: جنسیت د بشردوستانه عمل کاري ډله کې.
[21] پلان انټرنیشنل. ۲۰۱۳. د نړۍ د نجونو وضعیت ۲۰۱۳: پېغلې نجونې او آفتونه.
[22] د ۲۰۲۳ کال د نوومبر تر ۱۴مې نېټې، ۲۵۰،۰۰۰ افغانان تبعید شوي وو.

## د بندیزونو تعمیل

نـږدې نیمايي (۴۸ سـلنه) هغـو مېرمنـو چـې مشـوره ورسره شـوې وه، احساسـوله چـې د بندیزونـو تعمیـل د وخـت پـه تېرېدلـو سره لا زیـات جـدي شـوی دی، چـې د تېـرې سروې د ۶۲ سـلنې پـه پرتلـه یکـې کموالـی راغلـی دی. بـل لـوري تـه، (۳۲ سـلنه) نـورو مېرمنـو فکـر کاوه چـې پـه تعمیـل کـې اسـاني راغلـې ده او د وخـت پـه تېرېدلـو سره یکـې اسـتثناآت رامنځتـه شـوي دي، چـې دا د تېـرې سروې د ۱۹ سـلنې پـه پرتلـه زیاتوالـی دی.[۲۳] پـه ربعـوارو سروې ګانـو کـې د ځـواب ویونکـو تـر منـځ پـه سـیمه ییـزه کچـه توپیرونـه موجـود وو. د دې اټـکل هـم شـته چـې د مېرمنـو پـر وړانـدې د سرپرسـت حکومـت د بندیزونـو موخـه پـه تدریجـي ډول ترلاسـه شـوې وي، پـه دې مانـا چـې د کـړو وړو بدلـون او کلتـوري بدلونونـه یـې پـه موخـه کـې نیـولې وي چېرې چـې بنیـادي تطبیـق پـه جـدي ډول پلـی شـوی وي او تـر هغـه وروسـته د وخـت پـه تېرېدلـو د بندیزونـو پـه تعمیـل کـې لـږ اسـاني رامنځتـه شـوي وي ځکـه چـې لا ډېـر محافظـه کارانـه نورمونـه تاسـیس شـوي وي او کورنـۍ او ټولنـې خپـل سانسـور او کنـټرول پیـل کـړي. د بندیزونـو پـه تعمیـل کـې دغـه اسـاني ښـایي د دې ښـودنه وکـړي چـې مېرمنـې لـه بندیزونـو سره عـادت شـوي وي او اوس ورتـه ډېـر سـتونزمن نـه ښـکاري او پـه دې توګـه د وضعیـت عـادي کېدلـو تـه اشـاره کـوي. پـه نادولتـي مؤسسـو کـې لـه ښـځینه کارکوونکـو سره بحثونـو وښـودله چـې هغـوي لپـاره یـوه کوچنـۍ هیلـه پیـدا شـوې ده چـې لـه سرپرسـت چارواکـو سره ښـکیلې شي او وکالـت وکـړي، او پـه یـوه مخالـف سیسـتم کـې دننـه د مېرمنـو د حقونـو او د جنـډر سـتونزو پرمختـګ تـه د کار کولـو وړتیـا او وربانـدې ټینـګار تـه یـې اشـاره کولـه.

د بندیزونـو د تعمیـل پـه اړه پـه مختلفـو سـیمو کـې بېلابیـل نظرونـه موجـود وو. پـه جنـوب کـې، د مېرمنـو ازادي لـه اوږدې مـودې راهیسـې د محافظـه کارانـه ټولنیـزو نورمونـو لـه لـوري کنټرولیـږي، چـې ښـایي هلتـه د مېرمنـو پـه انـد د بندیزونـو عمـلي کېدلـو کـې جدیـت کـم شـوی دی. پـه جنـوب کـې، د مېرمنـو اکثریـت (۵۵ سـلنه) پـه دې بـاور وې چـې بندیزونـه لـه اسـتثناآتو سره عمـلي کېـدل.[۲۴] پـه مـلي کچـه پـه اوسـط ډول، اکثریـت (۶۰ سـلنه) مېرمنـو بندیزونـه لـه اسـتثناآتو سره عمـلي کېدونکـي بلـل.

## له سرپرست حکومت سره ښکیلتیا

مېرمنـو، هغـوي لپـاره د اړینـو سـتونزو پـه اړه، پـه ټولـو کچـو د سرپرسـت حکومـت لـه چارواکـو سره د محـدودې ښـکېلتیا پـه اړه راپـور ورکـړ او د سرپرسـت حکومـت ادارو تـه پـه لاسرسي کـې او د محـرم درلودلـو شرط د خنډونـو یادونـه یـې وکـړه. د سرپرسـت حکومـت پـه جوړښـتونو کـې د مېرمنـو نـه شـتون، د سرپرسـت حکومـت لـه چارواکـو سره د مېرمنـو لیدنـه ننګوونکـې کـړې ده. مېرمنـو د مسـتقیمو او نامسـتقیمو تـګلارو پـر یـوه ګډولـه د تمرکـز کولـو پـر اهمیـت رڼـا واچولـه څـو د هغـوي سـیاسي ګـډون زیـات شي، چـې پـه ملکـي خدماتـو کـې د مېرمنـو د بیـا ګمارلـو غوښـتنې او د حقونـو او حقوقـي خوندیتوبونـو یکـې ګـډون درلـود. ځینـو مېرمنـو بریالیتـوب پـه دې کـې لیـده، چـې لـه نارینـه قبیلـوي یـا مذهبـي مشرانـو څخـه وغـواړي چـې د هغـوي پـه اسـتازیتوب خـبرې وکـړي. پـه ډېـر محافظـه کاره جنـوب کـې پـه ځانګـړي ډول، د دې احتـمال ډېـر و چـې مېرمنـو د نړیوالـو فعالانـو پـه پرتلـه محـلي فعالانـو، لکـه د ټولنـې نارینـه مشرانـو او د ټولنـې پـر بنسـټ نادولتـي مؤسسـو او د مـدني ټولنـو ډلـو تـه لیـدل چـې د بندیزونـو لیـرې کولـو یـا یکـې اسـاني راوسـتلو لپـاره لـه سرپرسـت چاروکـو سره ښـکېل شي. پـه داسـې حـال کـې چـې مېرمنـو د خپـل نامسـتقیم ګـډون لپـاره وکالـت تـه دوام ورکـړی و، لکـه د کورنـۍ د نارینـه غـړو، د ټولنـې یـا مذهبـي نارینـه مشرانـو او نړیوالـې ټولنـې لـه لارې، هغـوي د پرېکـړې نیونـې پـه مېـز د یـوې څوکـۍ غوښـتنه کولـه او دغـه غوښـتنه یـې د طالبانـو تـر واک تـه رسـېدلو ډېـره مـوده وړانـدې کـړې وه.

## نړیوالې ټولنې ته سپارښتنې

مېرمنـو لـه نړیوالـې ټولنـې غوښـتنه کولـه چـې د سرپرسـت حکومـت پـر چارواکـو د دوامـداره فشـار لـه لارې مېرمنـو لپـاره د وضعیـت غـوره کولـو هڅـه وکـړي. هغـوي سپارښـتنه وکـړه چـې **مرسـتو تـه د مېرمنـو غـوره وضعیـت سره تـړاو ورکـړي (۴۵ سـلنه) او افغـان مېرمنـو لپـاره فرصتونـه چمتـو کـړي چـې پـه مسـتقیم ډول لـه طالبانـو سره خـبرې اتـرې وکـړي** (۳۹ سـلنه) او ډېـرو مېرمنـو غوښـتنه کولـه چـې دواړه تـګلارې بایـد پـه مـوازي ډول وکارول شي.[۲۵] داسـې ښـکاري چـې پـه تېـرو ۱۵ میاشـتو کـې د مېرمنـو لومړیتـوب نړیـوال اقتصـادي او ډیپلوماتیـک فشـار تـه اوښـتی دی پـه داسـې حـال کـې چـې پـه عیـن مهـال افغـان مېرمنـو لپـاره فضـا چمتـو کـړي چـې د ځـان لپـاره وکالـت وکـړي. پـه تېـر وخـت کـې، د هغـوي لومړیتـوب د نړیوالـې ټولنـې لـه لـورې سرپرسـت حکومـت سره پـر مسـتقیمو بحثونـو او وکالـت ټینـګار کـول وو.[۲۶] د مشـورې هـره دوره کـې پـر دې غوښـتنه ټینـګار شـوی و چـې د مېرمنـو ګـډون لپـاره لارې چـارې وپنځـول شي ځکـه چـې مېرمنـې پـه عامـه پریکـړه نیونـه کـې د برخـې اخیسـتلو لپـاره ورتـه د یوازینـۍ لارې پـه سـترګه وینـي.

---

[۲۳] د هغو مېرمنو شمېر چې وايي د بندیزونو عملي کېدنو کې جدیت کم شوی دی، په جولای کې له ۱۹ سلنې څخه په نوومبر کې ۳۷ سلنې ته زیات شوی دی. هغه مېرمنې چې وايي جدیت زیات شوی دی، ۴ سلنه زیاتوالی پکې راغلی دی او هغه مېرمنې چې وايي د بندیزونو عملي کېدنو کې یو څه جدیت موجود دی، ۷ سلنه زیاتوالی پکې راغلی دی.

[۲۴] په جنوبي سیمه (کندهار، نیمروز، زابل، ارزګان او هلمند) کې، د ملي اوسط په پرتله، د ۲ سلنې په پرتله، د ۶ سلنې ځواب ویونکو په اند "ډېر لږ تعمیل" موجود و. د ۳۳ سلنې په پرتله، د ۴۸ سلنې ځواب ویونکو مطابق "تعمیل یو څه جدي و، خو ځینو استثناآتو ته پکې اجازه وه" او د ۶۰ سلنې په پرتله، د ۴۸ سلنې ځواب ویونکو په اند تعمیل "ډېر جدي (له استثناآتو پرته) " و.

[۲۵] مېرمنو دغې پوښتنې ته تر یوه زیات ځوابونه هم انتخابولی شول.

[۲۶] په ټول هېواد کې د کیفیتي سروې په پرتله، چې د ۲۰۲۲ کال په اګست میاشت کې د Bishnaw له لوري ترسره شوې وه، هغو مېرمنو چې له نړیوالې ټولنې څخه یې غوښتنه کوله چې نړیواله مرسته د مېرمنو له ښه وضعیت سره مشروطه کړي، سلنه یې له ۲۶ څخه ۳۵ ته زیاته شوې وه او د هغو مېرمنو سلنه له ۲۶ څخه ۳۰ سلنې ته لوړه شوې وه، چې له طالبانو سره د مېرمنو د مستقیمو خبرو اترو کولو د تسهیل غوښتنه یې درلوده. د هغو مېرمنو سلنه له ۲۴ څخه ۱۵ ته ټیټه شوې وه، چې له نړیوالې ټولنې څخه یې غوښتنه کوله چې په مستقیم ډول له طالبانو سره خبرې اترې او وکالت یې وکړي. همدا راز د هغو مېرمنو سلنه له ۱۱ څخه ۳ سلنې ته ټیټه شوې وه، چې په رسمیت د طالبانو د پېژندلو غوښتنه یې کوله. دغه پوښتنې په مختلفو طریقو شوې وې او یوازې د ښودونکو په نظر ورته باید ولیدل شي. ووینئ: Bishnaw. ۲۰۲۲. د افغان مېرمنو مهم لومړیتوبونه. د اګست ۳۱ مه.

کـه څـه هـم هغـوي پـه مسـتقيم ډول د خپـل ځـان لپـاره وکالـت تـه لومړيتـوب ورکـوي، مېرمنـو وويـل چـې د سرپرسـت حکومـت اوسـنيو بنديزونـو او فرمانونـو تـه پـه ليـدو، **ملګـري ملتونـه او هغـه نړيـوال اسـتازي چـې پـه محلـي کچـه کار کـوي**، شـايي پـه غـوره موقعيـت کـې وي چـې لـه سرپرسـت چارواکـو سره د بنديزونـو د ليـرې کولـو او د محـلي اسـتثناآتو پـه اړه بحـث وکـړي. د ۲۰۲۳ کال پـه جـولای کـې تـر مشـورې وروسـته، مېرمنـو پـه محـلي کچـه کارکوونکـو نړيوالـو اسـتازو تـه ډېـر اهميـت ورکاوه.[۲۷] دا شـايي پـر پراګماتيکـو او جـلا حـلـلارو او معافيتونـو غوښـتلو د تمرکـز، او همـدا راز پـه مرکـزي کچـه، پـه ځانګـړي ډول د طالبانـو پـر کندهـار مېشـتي زعامـت، د نړيوالـو فعالانـو د محـدودې اغېـزې څرګندويـې کـوي.

مېرمنـو، د ملګـرو ملتونـو او **هغـو نړيوالـو اسـتازو هڅونـې تـه دوام ورکـړ، چـې لـه سرپرسـت چارواکـو سره ليدنـې کـوي، چـې د نيمايـي نفـوس پـه توګـه د مېرمنـو د ګـډون پـر اړتيـا زور راوړي** او د هېـواد پـر اوږدمهالـه وده او مـالي لګښـتونو بانـدې رڼـا واچـوي. د افغـان مېرمنـو پـه آنـد، د حقوقـو پـر بنسـټ بحثونـو پـر طالبانـو لـږه اغېـزه درلـوده. هغـوي د مېرمنـو د حقونـو سـتونزې د مؤثريـت د بحثونـو پـه چـوکاټ کـې راوسـتل غوښـتل، لکـه دا، چـې د مېرمنـو ګـډون د بريالیـو او سـوله ييـزو ټولنـو پـه رامنځتـه کولـو کـې څـه ډول اهميـت درلـود.

مېرمنـو، **د کورنـۍ او ټولنـې د نارينـه غـړو ، نارينـه مذهبـي او قومـي مشرانـو د ښـکېلتيا** پـر اهميـت ټينـګار درلـود څـو نـه يـوازې پـه ځانګـړو موضوعاتـو کـې د مېرمنو وکالـت وکـړي، بلکـې د مېرمنـو پـر حقونـو د بنديزونـو ليـرې کولـو کـې هـم وکالـت وکـړي. دغـه چـاره د تلويزيـون او راډيويـي پروګرامونـو لـه لارې د عامـه پوهـاوي کمپاينونـو پـه وسـيله بشـپړېدلی شي.

د دې لپـاره چـې ښېـوزلي او ورسره مـل منفـي ذهنـي ناروغـي او پايلـې يـې ختمـې کـړي او پـه مـلي او د کورنـۍ پـه کچـه د مېرمنـو اغېـزه او پرېکـړې نيونـې تـه لاسرسـی زيـات کـړي، مېرمنـو د نړيوالـو فعالانـو هڅونـې تـه دوام ورکـړ څـو د **مېرمنـو د اقتصـادي پياوړتيـا ملاتـړ وکـړي**. هغـوي د ظرفيـت جوړونـې او معيشـت کورسـونو تاسيسـولو او همـدا راز د انلايـن او کـور دننـه د کار فرصتونـو پنځولـو سپارښـتنه وکـړه. پـه ملاتـړ کـې کوچنـي پورونـه يـا د مـوادو، وسـايلو او ماشـينونو چمتـووالي هـم ګـډون درلـود.

د اقليـم بدلـون پـه اړه نړيوالـو لاسـوهنو لپـاره د يـوه لومړيتـوب پـه توګـه، د **اقليـم ناورينونـو اغېـزې کمولـو** لپـاره مخنيوونکـي کړنـې روښـانه شـوي وو. پـه سپارښـتنو کـې، د ناورينونـو د خطـر کمولـو زېربنـا (د سـېلابونو د اغېـزې لـه منځـه وړلـو لپـاره د دېوالونـو جـوړول)، د اوبـو د پايـداره سرچينـو تاسيسـولو (څـاه ګانـې او ذخيـرې) او د تودوخـې د پاکـو سرچينـو چمتـو کولـو (برېښـنايي بخـارۍ او د سـون پـاک مـواد) پـه برخـه کـې پانګونـې کولـو ګـډون درلـود. مېرمنـو، نړيـوال فعـالان وهڅـول، چـې د چاپېريـال د خونديتـوب لـه انسـټيټيوټونو سره لـه نـږدې کار وکـړي څـو پـه لـوړ خطـر کـې پرتـو سـيمو کـې د کورونـو جوړولـو لپاره د خونديتـوب معيارونـه وپنځـوي او د جنسـيت لـه پلـوه د خطـر د خـبرداري ټولشـموله سيسـتمونه تاسـيس کـړي.

[۲۷] د هغو مېرمنو سلنه، چې په محلي کچه کار کوونکي نړيوال استازي يې انتخاب کړي وو، په جولای کې له ۸ سلنې څخه په نوومبر کې ۲۱ سلنې ته زياته شوې وه او هغو مېرمنو چې د ملګرو ملتونو استازي يې انتخاب کړي وو، سلنه يې په جولای کې له ۴۷ سلنې څخه په نوومبر کې ۳۳ سلنې ته ټيټه شوې وه.